# ۴: کرکتر کښنه

# Characterization

لکچر: پوهنمل مصطفی صفا

# کرکټر، شخصیت، ستوری او که اتل؟

په داستاني ادب کې هغه چا ته چې پېښې زېږوي یا پېښې ورته پېښېږي، بېلابېل نومونه کارېدلي دي: شخصیت، کرکټر، اتل، هېرو، ستوری او نور...

لیکوال او کره کتونکی «استاد اسدالله غنضنفر» په دې اړه وايي:

(په پښتو کې کرکټر ته ځينې کرکټر وايي، ځينې ورته اتل وايي. ستوری، شخصیت یا هېرو هم ورته ویل شوي دي. دلته بېلابېل دلایل وړاندې کېږي. هغوی چې د اتل کلمه مناسبه نه ګڼي؛ وايي چې اتل خو باید په مثبته معنا راشي. حال دا چې د کیسې کرکټر ممکن منفي کس وي. د شخصیت په اړه هم نېوکه کېږي چې بې شخصیته او با شخصیته کلمې هم لرو چې نورې معناوې ورسره غوټه دي. د ستوري په مخالفت کې ویل شوي دي چې د سینما له دنیا سره ډېر تعلق لري. د کرکټر د کلمې په اړه ویل شوي چې یو خو د انګلیسي کلمه ده او د خصلت مفهوم ډېر پکې نغښتی دی...)

د استاد غنضفر مطلب دا دی چې تر هاغه نورو نومونو د «کرکټر» نوم مناسب دی. دا چې انګلیسي دی، نو دومره ستونزه نه لری، ځکه موږ ډېر نور انګلیسي نومونه هم لکه راډیو، انټرنیټ، سیمنیار او نور په پښتو کې لرو او نور تقریباً زموږ د ژبې مال ګرځېدلي.



# کرکټر څه ته وايي؟

په ادبياتو د کرکټر له کلمې څخه هدف هغه خلق شوی انسان، حيوان يا بل کوم شی دی چې د يو حقيقي انسان، حيوان يا هماغه شي په شان له خصوصياتو څخه برخمن وي او له همدې خصوصياتو سره په داستاني ژانر کې راڅرګندېږي.

په بله وينا؛ ناول ته هر ډول کرکټر ټاکل کېدای شي.
انسان، حيوان او يا هم غير ژوندي موجودات.

# په ناول کې د کرکټر اړتیا

افغان ادبپوه «استاد نجیب منلی» د کرکټر په باب ویلي:

(بې له کرکټره کیسه نه جوړېږي. که کیسه تلوسه ونه لري، کېدای شي بیا هم کیسه پاتې شي. زه سهار له کوره ووتم، په موټر کې کېناستم او دفتر ته لاړم. دا یوه کیسه ده. دې کیسه کې تلوسه نشته. دې کیسه کې څه خاص انکشاف نشته، مگر کیسه ده. یوه پېښه مې بیان کړه. اوس که له دې کیسې «زه» وباسم، بیا هېڅ شی نه ده، ځکه له کوره وتل او تر دفتره رسېدل، ما ته پېښ شوي دي. که زه دلته نه یم، نو پېښنه نشته.)

# د کرکټر ځواک

په نوي ناول لیکنه کې کرکټر کښښي ته د ناول د جوړښت تر ټولو اړخونو ډېره پاملرنه کېږي. په اوسمهال کې په نړیواله کچه ځینو مشهورو ناول لیکونکو داسې ناولونو ته هم مخه کړې ده چې د کیسې او پلاټ اړخ یې پیکه او یا بېخي نشته. په دې ناولونو کې د لیکوالو پاملرنه یوازې د کرکټرونو ارواپوهنیز تحلیل ته وقف شوې ده.

د ویرجینیا وولف، ساموئیل بېکېټ، جیمز جویس، ژان پل سارتر، مارسل پروست او اورهان پاموک ناولونه تر ډېره کرکټر محوره ځانګړتیاوې لري.

په پښتو ادب کې د اسحاق ننګیال «سیورى» او د وفا سمندر «په کور یو لېونى» په همداسې ناولونو کې راځي.

# په ناول کې کرکټرونه

## مرکزي کرکټر

مرکزي کرکټر هغه څوک دی، چې د ناول کیسه وربانديې راګرځي.

دی هغه څوک دی چې په ناول کې تر ټولو ډېر څرګندېږي

او لوستونکي هم غواړي چې د هغه په اړه تر نورو کرکټرونو ډېر وپوهېږي.

## متخاصم کرکټر

دا هغه کرکټر یا کرکټرونه دي چې د مرکزي کرکټر ضد یا مخالف وي. دا کرکټرونه که ښه وي یا بد، د لوستونکو د همدردۍ او هم حسۍ وړ نه دي.

د متخاصم کرکټر لویه ځانګړنه دا ده چې اکثریت مهال د مرکزي کرکټر د ارمانونو او هدفونو خنډ وي.

## سمبولیک کرکټر

سمبولیک کرکټر یا کرکټرونه هغه دي چې د یو نوي رامنځ ته کېدونکي کلتوري، ټولنیز او سیاسي تمایل لپاره د سمبول په توګه کار وکړي او یا د یو بدلون او انقلاب د اعلان په توګه رامنځ ته شي.

## نمونه کرکټر

دا هغه کرکټر دی چې د یوې طبقې استازیتوب یا ترجماني وکړي.

د بېلګې په ډول د مزدورۍ، پانګوالۍ، ځمکوالۍ او یا داسې نورو طبقو د ځانګړو نظریاتو، خصوصیاتو او د هغو د ارزښتونو پلوی وي او کله کله د همدغو طبقو په اړه د لیکوال د نظریاتو وړاندېې کوونکی وي.

# د کرکټر اړخونه

## د کرکټر جسمي اړخ

په دې اړخ کې د کرکټر جسمي او بدني خواوې او ځانګړتیاوې رانغښتل کېږي.

لکه جنسیت، قد، عمر، د پوستکي رنګ، مخ، سترګې، وروځې، وېښتان، معلولیت، غږ، جامې او حتی په لاره د تګ ډول.

د یوه کرکټر دا او دې ورته بدني او ظاهري ځانګړتیاوې ښودل او انځورول، د کرکټر کښنې جسمي اړخ جوړوي.

## د کرکټر ټولنیز اړخ

په دې اړخ کې د کرکټر ټولنیز موقف ځای پر ځای کېږي.

له خکو، کورنۍ او ټولنې سره د کرکټر تعامل او د هغه سیاسي، ټولنیز، دیني او فرهنګي دریځونه، دنده، مدني حالت، کارځای، استوګنځای، لهجه او نور په دې اړخ کې انځورېږي.

دا اړخ واقعیت پلوو «ریالیستو» لیکوالو ته ډېر مهم دی او تل د کرکټر کښنې پرمهال د هغه ټولنیز اړخ له مصنوعیته ژغوري.

## د کرکټر رواني اړخ

د کرکټر په دې اړخ کې د هغه رواني او ذهني ځانګړنې، احساسات، خویونه، عادتونه، هیلې او د ځان او نورو په باب تصورات رانغښتل کېږي.

دا ټول هغه شیان دي چې یو کرکټر یې له ټولنې یا نورو کرکټرونو سره د مخامختیا پر وخت د ځانغوښتنې، مهربانۍ، وېرې، بدبینۍ، خوشبینۍ، غوسې، اندېښنې، چالاکۍ، سستۍ، تلوسې او بې پروایۍ په صفتونو کې راڅرګندوي.

# د جسمي اړخ بېلګه: د مارک ټواین له «ټام سایر» ناول څخه

«ټامه!»

ځواب نه ورکول کېږي.

«دا هلک چېرته تللی دی؟ تا ته وایم ټامه!»

له هېڅ خوا نه ځواب نه راځي.

زړې بوډۍ خپلې عینکې ښکته کش کړې او د عینکو له پاسه یې په کوټه کې وکتل. بیا یې عینکې پورته جګې کړې او د عینکو د لاندې یې یوې خوا او بلې خوا ته وکتل.

دې به ډېر کم په عینکو کې کتل، ځکه دا د ډول لپاره وې. بیا یې شاوخوا ته وکتل او ویې ویل: «که په لاس راغلې، نو زه به دې خوښه شم!

بیا یې امسا واخیسته او بستره یې ورپسې چوخ کړه، مګر پرته له یوې زړې پیشو نور څه یې ونه موندل.

بوډۍ له ځانه سره وویل: «ما د ټام غوندې شوخ هلک نه دی لیدل!»...

# د ټولنيز اړخ بېلګه: د علم ګل سحر له «مينه او جګړه» ناول څخه

خپل کلاشينکوف يې د سينځلي له ونې سره ودراوه. په خپله د رود په غاړه په ډبره کېناست. مخ ته يې دوې لپې اوبه واچولې. په اوبو کې يې لاس ټيټ کړ، شګې او وړې ډبرې يې راواخيستې، بېرته يې د اوبو په منځ کې وشيندلې. کبانو يوې او بلې خوا ته منډې کړې.

ملوک له ځايه راولاړ شو، له رود څخه د جلا شوې ويالې له غاړې يې څو ډکې شينشوبي راوشکول. بېرته په هماغه ځای کېناست. شينشوبي يې په اوبو کې ووهل. خوله يې له اوبو ډکه کړه، اوبه يې بېرته ځنګ ته وپاشلې. د شينشوبي يو ډکې يې راپرې کړ، د خپلو غاښونو په پاکولو لګيا شو. په خوله يې اوبه تېرې کړې.

له جيبه يې په مريو جوړه هېنداره راوايسته. خپل غاښونه يې پکې وليدل. د مريو په ننداره بوخت شو، هېنداره يې بېرته جيب ته واچوله... سوړ اسويلی يې له خولې ويوست. يو لاس يې موټی کړ او خپل تندی يې پرې تکيه کړ.

د مجاهدينو د خندا غږ يې د چورتونو لړۍ وشلوله. د هغوی خوا ته يې وکتل. سر يې وښوراوه، بېرته يې په زنګنو کېښنود...

# د رواني اړخ بېلګه: د داستایوفسکي له «قمار باز» ناول څخه

په خیالونو او اندېښنو کې ډوب وم. په لومړۍ مخې ته راغلې لاره کې، کینې خوا ته کوږ شوم. په سر کې مې هغو سپارښتنو انګازې کولې چې د رولیت د قمار په اړه یې راکړې وې.

عجیبه کار و؛ ډېر شیان وو، چې ما باید د هغو په اړه فکر کړی وای، خو زه ټول د پولینا په اړه په خپلو احساساتو او خیالونو کې ډوب وم. دا دوې اونۍ چې له هغې لرې وم، آرام؛ خو د راستنېدو په ورځ یې ناآرام وم.

پر لاره داسې خوځېدم لکه لېونی. ناکراره وم، ان په خوب کې به مې د سترګو پر وړاندې ولاړه وه.

یو وار په واګون کې ویده شوم. داسې ښکارېدل چې په خوب کې مې په لوړ غږ د پولینا په اړه خبرې کړې وې او مسافرو راپورې خندلي وو...

# د جوړښت له مخې د کرکټرونو ډولونه

## ساده کرکټرونه

ساده کرکټرونو ته جامد او ولاړ کرکټرونه هم وايي. دا هغه کرکټرونه دي چې ثابت او په يو حالت ولاړ دريځ لري او د پېښو او شرايطو په لړ کې ډېر بدلون پکې نه راځي.

ادبپوهاند «فوسټر» ساده کرکټر داسې راپېژني چې هغه يو يا دوه صفتونه لري چې خلک ورسره بلد وي او د همدې خصوصياتو په رڼا کې عمل کوي. مثلاً يو څوک درواغ وايي، دا يې يو خصوصيت دی او موږ يې د همدې خصوصيت له مخې پېژنو، نو چې کومه خبره کوي، موږ اټکل کولی شو چې هغه اوس بيا دوراغ وايي. په نړيواله کچه د چارلز ډيکينز ناولونه د ساده کرکټرکښنې برياليۍ نمونې دي.

## پېچلي کرکټرونه

پېچلي کرکټرونه هغه دي چې د شرايطو پر وړاندې بدلېږي رابدلېږي او د ډېرو او متضادو خصوصياتو لرونکي وي.

فرضاً يو سړی دی، کله کله ډېر قهرېږي، خو معمولاً ډېره سړه روحيه لري. ډېر عاقل انسان دی، خو د هر بل عاقل انسان غوندې کله کله لويه تېروتنه کوي.

په پښتو ادب کې د پروفيسر راز محمد راز د «عاشو، لمر او باران» په نوم ناول مرکزي کرکټر «عاشو» د کرکټر کښنې په پېچلي ډول کې راځي.

ځکه دغه کرکټر په يوه جمله کې د تشريح وړ نه دی؛ ځکه کله ظالم وي، کله مظلوم. کله شيطان دی، کله پرښته. کله ګناه کوي، کله ثواب...

# د کرکټر کښنې په اړه نیوکې

په یو شمېر پښتو ناولونو دا نیوکه کېږي چې کرکټرونه یې یا تک سپین دي، یا تک تور. یو څوک که ښه وي، ټول ښه خویونه لري او یو څوک که بد وي، ټول بد خویونه لري. حال دا چې انسان په طبیعي حالت کې داسې نه دی.

یو بل اعترض دا دی چې په ډېری پښتو داستانونو کې کرکټرونه تر حد ډېر منفعل وي. یو کرکټر که فعال نه وي، د لوستونکو پام نه شي را اړولی. یو کرکټر تر آخره مظلوم وي، ظلم ورسره کېږي، زورزیاتی ورسره کېږي، ټولنیز مقام ته یې ستونزه جوړېږي، خو دی هېڅ عکس العمل نه شي او همداسې منفعل پاتې کېږي.

د ناول لیکنې تیوري وایي:

(په هر ښه داستان کې کرکټرونه راولاړېږي؛ پېښې جوړوي او پېښې بیا په کرکټرونو کې تغیر راولي. منفعل کرکټر نه پېښه جوړولی شي او نه پېښه په ده باندې داسې اثر غورځولی شي چې داستان ورسره روان شي.)

ځینې وخت ناول لیکونکی یو کرکټر نه شي لوبولی او برعکس پېښې راولاړوي چې کرکټر وزیږوي. یا غواړي داستان ته بل کرکټر ورداخل کړي او داستان ته حرکت ورکړي. دا هڅه په واقعیت کې د لیکوال ناکامي ښیي.

# د کرکټر کښنې په اړه وړاندیزونه

د کرکټرایزېشن په بحث کې ادبپوهان وايي:

دا مه وایه چې پلانی دروغ وايي، بلکې دا وښیه چې پلانی دروغ وايي. داسې مه وایه چې پلانی سخي دی، بلکې دا وښیه چې پلانی سخي دی.

کرکټر که چېرې بیان او تفسیر شي، هغه د چا په ذهن کې نه پاتې کېږي. خو که کرکټر ته جسم او ژوند ورکړل شي، نو هغه کرکټر لوستونکی له ځانه سره بیايي، داستان جالبوي او دی هغه وخت ژوند پیدا کوي چې کله موږ د ده عمل وګورو.

د کرکټرکښنې په باب بله خبره دا ده؛ کرکټر چې په هر زمان او مکان کې اوسي، نو کړه وړه يې باید د همغه ځای او وخت استازيتوب وکړي. که څوک د کابل په مکروریان کې اوسي، نو ممکن د پکتیکا د زیړوک ولسوالۍ له اوسېدونکو سره د جامو، ظاهري بڼې او ورځنیو بوختیاو له مخې ځینې توپیرونه ولري.

دغه راز که کوم کرکټر بزرګر وي، باید ټول چال چلند او خبرې اترې يې د بزګر په ډول انځور شي او که کوم کرکټر ولسمشر وي، یا علمي او اکاډمیک شخص وي، نو چال چلند، خبرې اترې او نورې لید يې هم باید د همدغه موقف کسانو په شان وي.



# بنه وختونه!